# اې هلکه، زه تا ته څو خبرې درښایم: الله په یاد لره، هغه به ستا ساتنه وکړي، الله په یاد لره، هغه به دې په وړاندې ومومې، کله دې چې څه غوښتل نو له الله څخه یې وغواړه، او کله دې چې مرسته غوښتله، نو له الله نه یې وغواړه

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی وايي چې: زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره شاته په سپرلۍ سپور وم نو ویې ویيل:« اې هلکه، زه تا ته څو خبرې درښایم: الله په یاد لره، هغه به ستا ساتنه وکړي، الله په یاد لره، هغه به دې په وړاندې ومومې، کله دې چې څه غوښتل نو له الله څخه یې وغواړه، او کله دې چې مرسته غوښتله، نو له الله نه یې وغواړه او پوهه شه چې: که دا ټول خلک راغونډ شي تر څو تاته د څه ګټه دررسوي، نو هغوی به تاته هېڅ ګټه و نه رسوي پرته له هغې چې الله درته لیکلی وي، او که دوی راغونډ شي تر څو تاته یو څه ضرر دورسوي، نو هېڅ ضرر به در ونه رسوي له هغه پرته چې الله تعالی درته لیکلي وي. قلمونه پورته شوي او کاغذونه وچ شوي دي».

[صحيح دی] [الترمذي روايت کړی دی]

ابن عباس رضي الله عنهما خبر ورکوي چې هغه کوچنی و او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې شاته په سپرلۍ ناست و، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: زه تاته یو څه کارونه او شیان درښایم چې الله تعالی به پرې ګټه دروسوي: الله - تعالی - په یاد لره د هغه د اوامرو په ساتلو او له منهیاتو څخه یې په ځان ژغورلو سره، داسې چې په اطاعت او عبادت کې دې ومومي او په نافرمانۍ او ګناهونو کې دې ونه مومي، که چېرته دې داسې وکړل، نو بدل به دې دا وي چې الله تعالی به دې د دنیا او آخرت له سختیو وساتي او په هر ځای کې چې یې نو په چارو کې به دې درسره مرسته وکړي. او کله دې چې څه غوښتل نو یوازې له الله جل جلاله یې وغواړه، ځکه یوازې هغه - ذات دی چې - سوال کوونکو ته ځواب ورکوي (دعا یې قبلوي). او که مرسته غواړې نو یوازې له الله تعالی نه مرسته وغواړه. او باید دا باور ولرې چې که د ځمکې ټول خلک تاته د ګټې رسولو لپاره راغونډ شي، تاته هېڅ ګټه لاسته نه درځي مګر هغه چې الله - جل جلاله - درته لیکلې ده، او که د ځمکې ټول خلک تاته د ضرر رسولو لپاره راغونډ شي، نو تاته به هېڅ ضرر ونه رسیږي مګر هغه چې الله تعالی درته لیکلی دی. او دا چې دا کار د الله پاک لخوا د هغه د حکمت او پوهې له مخې ټاکل شوی دی، او د الله جل جلاله حکم لره هېڅ بدلون نشته.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4811